# شریعت
ورځپانه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۷۸ ګڼه / پنجشنبه ۲۱ شوال‌المکرم ۱٤٤٤ هـ.ق / ۲۱ ثور ۱٤۰۲ هـ.ش / ۱۱ می ۲۰۲۳ میلادي


سرپرست وزارت امور خارجه:

## تمام کشورها خواهان تعامل با افغانستان اند

سرپرســت وزارت امور خارجه، پس از برگشــت از سفر پاکستان ، در نشستی گفت: همه کشورها علاقه و دلچسپی دارند که تعامل با افغانستان بیشتر شود.

مولوی امیر خان متقی سرپرست وزارت امــور خارجــه، هنگام بازگشــت از سفر پاکســتان به کشور، در نشســتی گفت همه کشــورها، بســیار دلچسپی و علاقــه دارند که با افغانســتان تعامل بیشــتر شــود و کشور ما محور اقتصاد و اتصال منطقه‌ی باشد.

او افــزود: تعامل با افغانســتان، بــه نفــع مــردم افغانســتان و جهان اســت؛ فشــار آوردن به مردم افغانســتان، منجمد کردن سرمایــه افغانســتان، گــروگان گرفتن حیثیت سیاسی و روابط دیپلوماتیک افغانســتان، راه حل نیست.

مولوی امیر خان متقی، سرپرست وزارت امــور خارجــه امــارت اســلامی، جهت اشــتراک در نشست سه جانبه وزرای خارجه چین، پاکســتان و افغانستان، به اسلام آباد سفر کرده بود.

## ځوانانو ته د کار موندنې لپاره پنځو مؤسسو سره هوکړه لیکونه لاسلیک شول



د کار او ټولنیــزو چارو وزارت او د پنځــه کورنیــو موسســو ترمنــځ د ځوانانو لپــاره د کار موندنــې او پــه هېــواد کې له اړمنــو ماشــومانو ســره د هــر اړخیــزې مرســتې پــه موخــه یــو کلــن هوکړه لیک لاســلیک شــو. د دغه وزارت لــه نړیوالو مرستندویو بنســټونو وغوښــتل چې له اړمنو افغانانو سره خپلې مرســتې زیاتــې کــړي. د یادو بنســټونو مســوولینو په دغه بهیر کې پــر رونښتیا ټینګار وکړ او وې ویل چې پــه بېلابېلــو ولایتونو کې بــه د نړیوالــو بنســټونو په همــکارۍ خپــل خدمــات پیل کــړي. د کار او ټولنیــزو چارو وزارت وایي، چې اړمنو کســانو تــه د خدمتونــو د وړاندې کولو په برخه کــې د کورنیو او بهرنیو بنســټونو لپاره زیاتې آسانتیاوې برابروي.

د لوړو زده‌کړو وزارت:

## د پوهنتونونو ښوونیز نصاب به ډېر ژر خپور شي



د لــوړو زده‌کــړو سرپرســت وزیر شــیخ ندا محمد ندیــم وایي چې د پوهنتونونــو پر ښــوونیز نصاب د بیاکتنې کار پای ته رســېدلی او ډېر ژر به خپور شي. نوموړي چې پروان ولایت ته تللی په یــوې غونډه کې ویلي چې د پوهنتونونو اســتادانو ته به د ماســټرۍ او دوکتورا تر کچې د زده کړو زمینه دننه په... ۵مخ


## توافـق افغانـستان و پاکسـتان بر ایجاد روابط نیک تجاری



نورالدیــن عزیــزی، سرپرســت وزارت صنعــت و تجــارت امارت اســلامی در دیدار با رئیــس اداره بنادر کراچی پاکستان روی مسائل تجــاری، ترانزیتــی و مشــکلات تجار افغانســتانی در بنادر کراچی گفت‌وگو کردند.

وزارت صنعت و تجارت ... ص۵

## کندهار ته د بهرنیو سیلانیانو ورتګ زیات شوی



کندهار ولایت تــه په یوه ورځ کې له بېلابېلو هېوادونو څخه ۱۵ سېلانیان راغلي دي.

د کندهار د اطلاعاتو او کلتور ۷مخ

## د سالنګ سړک د بیارغونې چارې پیل شوې

د ســالنګ لویــې لارې د ۴۲ کیلو متره ســړک د بیارغونې چارې پیل شــوې. د پــروان ولایت ســیمییز مســوولین وایي، چې د دغې لویې لارې د بیارغونــې کار لــه تاجکان ســیمې څخــه پیــل شــوی چې دیارلســمې ګالرۍ پــورې به پایته ورسېږي. د پروان د والي مرستیال د سالنګ لویه لاره د هېواد یو له مهمو



لارو ګڼي او وایــي، د دغې لارې د بودجې له تصویبېدو وروســته به د هغې د پخولو چارې هم پیل شي. د سالنګ لویه لاره نه یوازې هېواد له شمال سره نښلوي بلکې د ترانزېټ لپاره هم یوه مهمــه لاره ده. پر دغه لارې تــر ډېره د پاکســتان ترانزېټي توکي مرکزي اســیا او له هغه ځایه بېرته پاکستان ته لېږدول کېږي.

د بهرنیو چارو وزارت:

## پاکستان کې ښکېل لوري باید له زغم او تفاهم څخه کار واخلي

شریعت: د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د پاکستان د وروستیو تحولاتــو په اړه د یــوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي: چې پاکستان کې ښــکېل لوري باید له زغم او تفاهم څخه کار واخلي.

اعلامیه کــې راغلي: د افغانســتان اســلامي امــارت پاکســتان کې د وروســتیو تحولاتــو پــه اړه، چې لاریونونه شــوي او په ځینو مواردو کې پــه تاوتریخوالي هم اوښــتي، خواشیني څرګندوي.

د افغانستان اسلامي امارت پاکستان کې سیاســي ثبــات د پاکســتان د مســلمان ملت او د ټولې سیمې په ګټه بولي او له ښــکېلو لوریو د زغم او تفاهم هیله لري. ص۵

والی کابل:

## خدمات مخابراتی در حومه‌های کابل تسریع یابد



شــیخ محمــد قاســم خالد، والی کابل از مســوولان شبکه مخابراتی اتصالات خواست تا آنتن‌هــای مخابراتی خویش را در مناطق دور دست... ص۵

## بامیانو کې د سربو او جستو کانونه استخراجېږي



د کانونــو او پټرولیــم وزارت وایي، چې په بامیانو کې د سربو او جستو کان د اســتخراج تــړون یې د افغان درانــي د کان کیندنې او پروســس شرکت سره لاسلیک کړی دی.

د بامیانو د اول نمبر... ۵مخ

جایگاه تعلیم و تعلّم در اسلام — ۲ مخ

د حسن عباس کتاب او د افغان لیکوالانو مسؤلیت! — ۳ مخ

د اسلام آباد درې اړخیز فارمټ ته لنډه کتنه! — ۳ مخ

## محمدنبي د سرطان روغتون جوړوي



د عامې روغتیا وزارت مسوولینو او د کرکټ ملي لوبډلې لوبغاړي محمد نبي په افغانســتان کې د ســرطاني ناروغیو د درملنــې لپاره د یو مجهز روغتون پر جوړولو بحث او ۵مخ

د چین سفارت:

## افغانان دې د ویزو لپاره چاته پیسې نه ورکوي



په افغانســتان کــې د چین لوی سفارت وایي، هغه افغانان، چې غواړي چین ته سفر وکړي، نو د دوی لپاره د سفارت په وېب پاڼه کې د انلاین نوم لیکنې خدمتونه فعال دي. د سفارت لخوا په یوه خپره شــوې خبرپاڼه کې راغلي، چې د سفارت آنلاین... ۵مخ

سرمقاله

## امانت ساتنه او مالي شفافیت د هېواد بسیاینې ضمانت کولی شي!

که د افغانســتان تېرو شلو میاشتو حکومتوالۍ ته ښه په غورو وکتل شي، نو هر دوست او دښــمن ته په ډاګه معلومېدای شــي، چې اسلامي امارت له خورا ســختو ورځو بریالی راووت. ځکه د کابل لاســپوڅې ادارې د بهرنیو ځواکونو له وتلو ســره سم په ډېر ناڅاپي ډول سقوط وکړ، سقوط هم داسې چې زیاترو لویانو خپل وس ســره ســم جیبونه ډکول او الوتکو ته یې ځان رســاوه، تردې چې د ډېرو ملکي ادارو د تدارکاتــي قراردادیانو په کروړونو پیســې هم پریادو ادارو قرض پاتې وې، غربي میډیا هم په خورا زورو شور افغانستان کې د اقتصادي سقوط او له لوږې، ناروغۍ، خوار ځواکۍ او بې روزګارۍ د میلیونو وګړو د مرګ ســاندې ویلې، وارخطایي او پرېشاني یې خپرولــه او ټول افغان ولس ته یې اروایي زهر ورکول، خو د څښــتن تعالی په غیبي مرســته د تېرو شــلو کلونو په شــان دا ځل هم د ملت مخلص او رښــتیني خادمان یو ځل بیا هم بریالي شول. په دغه خطرناکه مرحله کې د بریالیتوب اصلي عامل همدغه امانت ســاتنه، اخلاص او مالي برخه کې د پوره شــفافیت خیال ســاتل و، په یاده موده کې نړۍ او ګردو افغانانو ولیدل چې له یوې خوا د امارت مســؤلینو په ناڅاپي توګه د مختلفو چارو واګې په لاس کې واخیســتې، په داسې حال کې چې بیت المال کې یوه افغانۍ هم نــه وه، ځکه هلته خو هر څه له بهرني جیبه پالل کېدل، ګمرکونه د زورواکو او معدنونه د بدماشــانو په لاس کې وو، د لکونو ملکي... ٤مخ

## ترمیم ۲۰ عراده تانک محاربوی چین‌دار



شــریعت: وزارت دفاع ملی از ترمیم و فعال ســازی بیســت تانک چیــن‌دار خبر می‌دهد.

وزارت دفــاع ملی دیروز با نشر تویتی گفت: بیســت عراده تانک چین‌دار مربوط کندک زرهدار لوای دوم پیاده قول اردوی ۳۱۳ مرکزی که قسماً... ص۵

## میدان وردګو کې ۲۹ کانالونه پاکېږي



د میــدان وردګو د کلیــو، بیارغونې پراختیــا ریاســت په چــوکاټ کې نړیــوال بانک په مالي ملاتړ په مرکز میدان ښار او جلریز ولسوالۍ کې د ۴۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۲۹ کانالونو د پاکولو چارې پیل شوې.

د یــادو کانالونو د چــارو د پیل په مراســمو کې د اکتېډ پلې کوونکې موسسې ولایتي مسؤل ... ۵مخ

# جایگاه تعلیم و تعلّم در اسلام

**پوهنیار عبادالله صالح**



تعلیم یاد دادن و آموزش و تعلّم فراگیری دانش است، تعلیم تاباندن نور علم و دمیدن روح حیات به کالبدی روح و خستهٔ جامعه و تعلّم رها شدن از گرداب نادانسته‌هاست. اسلام در این حرکت از همهٔ مکاتب پیشقدم‌تر و مصممتر است، به طوری که آموزش و فراگیری دانش از محوری‌ترین برنامه‌های فردی و اجتماعی این مکتب الهی به شمار می‌رود. نخستین نغمه‌های آسمانی وحی در اسلام، بیان کنندهٔ ارزش قلم و آموزش علم و دانش است و آن را از جمله نعمتهای مهمّ خداوند در مورد انسان معرفی می‌کند. اولین معلّم این مکتب ذات باری‌تعالی و نخستین دانش آموزش نبی مکرم اسلام است. ترجمه: « ای رسول بخوان بنام پروردگارت که تو را خلق کرد... بخوان و پروردگار تو که بهترین کریمان است. آن خدائی که به انسان علم نوشتن به قلم آموخت و به بشر آنچه را نمی‌دانست تعلیم داد.» (علق، ٥-١)؛

این آیات خط مشی فرهنگی در جهان اسلام را از همان ابتدا ترسیم می‌نماید، خصوصاً این که بدانیم اسلام در سرزمینی طلوع کرد که تاریکی جهل همه جا را فراگرفته بود و تنها هفده نفر در آن سرزمین باسواد بوده‌اند. و حتی تمدنهای ایران و روم نیز اکثریت مردم را از آموزش محروم می‌نمودند.تعلیم و تعلّم از اهداف بعثت انبیاء علیهم السّلام بوده است.

در چهار آیه از قرآن کریم آموزش علم و پرورش نفوس انسانها از مهمترین اهداف بعثت انبیاء معرفی شده است، که این آیات عبارتند از: سورهٔ جمعه، آیهٔ ۲؛ سورهٔ آل عمران، ایهٔ ١٦٤؛ سورهٔ بقره، آیات ١٥ و ١٢٩. خداوند در سورهٔ جمعه می‌فرماید: ترجمه: «او کسی است که در میان مردمی امّی رسولی را از خودشان مبعوث کرد تا آیات او را بر آنها بخواند و آنان را تزکیه کند و کتاب و حکمت را به آنها بیاموزد.» سورهٔ جمعه، آیهٔ ۲

پیامبر گرامی اسلام نیز، تعلیم را از اهداف مهمّ رسالت خویش معرفی می‌نمایند، چنانچه نقل شده روزی رسول اکرم ـ صلّی الله علیه و آله ـ وارد مسجد شدند و دو گروه از مردم را مشاهده نمودند، گروهی مشغول عبادت و راز و نیاز با معبودشان بودند و گروه دیگر به تعلیم و تعلّم و مذاکرهٔ علمی اشتغال داشتند. ایشان فرمودند: «کلاهما علی خیر» هر دو کار خوبی می‌کنند. «و لکن بالتّعلیم اُرسلتُ» لکن من برای تعلیم به رسالت مبعوث شده‌ام و بعد داخل جمعیتی شدند که به مذاکرهٔ علمی مشغول بودند.

ازاین رو پیامبر اکرم ـ صلّی الله علیه و آله ـ و ائمه کرام از هر فرصتی برای آموزش مردم بهره می‌بردند و از هیچ کوششی دریغ نمی ورزیدند. به عنوان نمونه، پیامبر اسلام ـ صلّی الله علیه و آله ـ بعد از جنگ بدر خطاب به اسیران جنگی فرمودند: هر کس از شما که باسواد است بتواند به ده نفر از اطفال مسلمین خواندن و نوشتن بیاموزد آزاد می‌شود.

وجوب تحصیل دانش و تعلیم آن از نظر اسلام:

از نظر اسلام علم آموزی و تعلیم نه تنها امری پسندیده است، بلکه از واجبات این دین به شمار می‌رود و آیات و روایات زیادی بر آن دلالت دارند. از جمله این که رسول گرامی اسلام فرموده‌اند: «طلب العلم فریضةٌ علی کلّ مسلم»؛(٤) فراگیری دانش بر هر مسلمانی واجب استً. از طرف دیگر بر دانشمندان هم واجب است که به امر آموزش اهتمام ورزند، چنان چه در بیان دیگری از پیامبر اکرم ـ صلّی الله علیه و آله ـ نقل شده که فرمودند: «ما أخذ اللهُ المیثاقَ علی الخلق أن یتعلّموا حتّی أخذَ علَی العلماء أن یعلّموا» خداوَند از مردم برای یادگیری عهد و پیمان نگرفت مگر این که از دانشمندان برای یاد دادن پیمان گرفت.

نبی مکرّم اسلام به مسلمین توصیه می‌نمودند به دنبال دانش بروید و در فراگیری دانش هیچ گونه محدودیت زمانی و مکانی نداشته، از ابتدای کودکی تا آخر عمر در پی آموختن باشید؛ «اُطلبوا العلم من المهد الی اللّحد» و حتی اگرتنها راه دستیابی به علم و دانش سفر به دوردست‌ترین نقاط جهان همچون چین باشد که در آن زمان مسافرت به آنجا به آسانی ممکن نبود، از هیچ کوششی دریغ ننمائید. «اطلبوا العلم و لو بالصّین». طلب علم آن چنان مهم است که در دین اسلام طلب آن از طلب مال واجب‌تر و ارزش آن از عبادت بالاتر شمرده شده است، در بیانات گهربار امیر المؤمنین ـ علیه السّلام ـ می‌خوانیم: «ایّها الناس إعلمُوا أنّ کمال الدّین طلبُ العلم و العمل به الا و انّ طلبَ العلم أوجبُ علیکم من طلب المال»ای مردم کمال دین در جستجوی دانش و عمل به آن است و آگاه باشید که تحصیل علم از طلب مال واجب‌تر است. و در بیان دیگری فرمودند: «جستجوی دانش برتر از عبادت است». چرا که تنها عبادتی ارزش دارد که از روی معرفت باشد و تنها عالم است که در دام شبهات و وسواس گرفتار نمی‌شود.

در میان همهٔ معارف بر تعلیم و تعلّم احکام و معارف دین تأکید بیشتری شده است. به حدّی که بر مسلمین واجب گردیده که از هر قومی افرادی برای فراگیری علوم دین هجرت کنند و بعد از تحصیل به میان قوم خود برگشته و آنها را آموزش دهند؛ ترجمه: «پس چرا از هر طائفه‌ای گروهی هجرت نمی‌کنند تا علم دین بیاموزند و وقتی برگشتند به سوی قوم خود، آنها را انذار کنند.» ( توبه ۱۲۲.)

علم واجب از نظر اسلام: گفته شد از نظر اسلام تحصیل دانش امری لازم و واجب است، حال سؤال این است که آیا فراگیری تمام علوم واجب است یا نه؟ در جواب این سؤال باید گفت که علوم بر دو دسته‌اند:

١. علومی که از یادگیری و تعلیم آنها صریحا نهی شده مانند: سحر که یا برای خود فرد و یا جامعه فسادآفرین هستند و یا این که اشخاص به قصد ضرر زدن به دیگران می‌آموزد، آموزش و یادگیری این دسته از علوم مگر در مواقع ضرورت حرام می‌باشد؛

۲. علومی که جزو دستهٔ اول نیستند، که اینها خود بر دو گروهند:

١. دانشهایی که مقدمه سازندگی مادی و یا معنوی، دنیوی و یا اخروی، فردی و یا اجتماعی می‌باشند و بدون آنها حیات مادی و معنوی انسان به مخاطره می‌افتد، که تحصیل آنها به صورت واجب عینی مثل شناخت اصول عقائد وتکالیف شرعیه ویا واجب کفائی همچون علم طبّ وشیمی و..برهمگان لازم است.

منابع :
١- قرآنکریم
٢- فروغ ابدیت، ج ١، ص ٦٨، دفتر تبلیغات، چ پنجم، آیت الله سبحانی.
٣- بحار الانوار، ج ١، ص ٢٦، بیروت، ١٤٠٣ ق.
٤- اصول کافی، ج ١، ص ٣٥، انتشارات علمیه اسلامیه، چ اول، شرح و ترجمه سید جواد مصطفوی.
٥- سیمای علم و حکمت در قرآن و حدیث، ص ١٥١، محمدی ری شهری، دار الحدیث، چ اول..

ترتیب دهنده: پوهنیار خارمن عبادالله»صالح« استاد قوماندانی کالج ارتقاء ظرفیت..

# ستـــړی ژونـــد!

**حکمت الله - میوندي**

ژوند هغه ځلي ته ورته دی چې لیدونکي ورته له بېلا بېلو اړخونو ګوري ژوند په مینه او مبارزه پیلېږي او د سلګۍ تر وروستۍ شېبې پورې د بریالي ژوند او تاریخ جوړولو هڅه کوي.

انسان کله کله له خپل ټول قوت سره سره نه شي کولای د زړه بندې دروازې پرانیزي او کرخت وجودونه په حرکت راولي، خو کله بیا له داسې حالاتو سره سړی مخ شي چې فکر یې انقلابونه زېږوي.

په دې لیکنه کې زه تاسې ته د یوه داسې مجاهد چې په تېر شل کلن جهاد کې یې د خپل سر په بیه له عقلي تصوراتو ور ها خوا مبارزه او جهاد کړی د ژوند یوه خاطره در سره شریکوم.

الحاج ملا محمد حنیف حمزه د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس دی هغه مهال د همدې کمېسیون مشر یا مسئول وو.

شمالي ولایتونو ته مو د سفر تکل وکړ د سفر ملګري ډېر وو خو زه له حاجي حمزه صاحب سره په یوه موټر کې کېناستم.

د سفر په پیل کې مې غوښتل چې د حمزه صاحب د ژوند په اړه څه نا څه واورم تر څو یې راتلونکې نسلونو ته د قلم په ژبه بیان او د یوه یادښت په توګه خاطره پرېږدم زړه نازړه مې ږغ پرې وکړ.

حاجي حمزه صاحب! د خپل تېر شل کلن جهاد او مبارزې په اړه که راته خپله یوه خاطره بیان کړې سفر به لا خوندور شي، دی مسکی شو او د ثانیو لپاره یې سکوت وکړ زه پوه شوم چې د دې خاموشۍ شاته به ډېر لویې لویې توفاني پېښې پرتې وي.

حاجي حمزه صاحب مخ را واړاوه او د تېر شل کلن انقلاب یوه په ظاهره وړه خو ډېره سنګینه خاطره داسې بیان کړه: د مني موسم دی هوا ډېره سړه ده موږ څلور ملګري زه ( ملا محمد حنیف حمزه)، حاجي لالا زموږ موټروان دی، حاجي آغا (ملا عبدالکریم اخند)، حافظ صاحب ( حافظ محمد امین فاروقي ) په کرولا موټر کې ناست او مخ پر هرات روان یو چې نا څاپه مو پام شو پر سړک وسله وال کسان ولاړ دي لوی موټر یې درولي په دې سړه هوا کې خلک له موټرو تا کوي او تلاشۍ کوي.

موږ هم موټر د څرک یوې څنډې ته کړ او د تلاشۍ په نیت را تا سولو خو وسله والو کسانو په موږ کې تلاشي و نه کړه، موټران پر سړک ولاړ دي موږ پلې شوو د تلاشۍ په نیت حافظ صاحب ( حافظ محمد امین فاروقي ) راته وویل شپه ده نه معلومېږو راشئ دې غونډیانو ته سم شو موږ هم په همدې غونډیو کې روان شولو شپه ده لاره نه را معلومېږي.

موټر مو پر سړک ور پرېښود او د ځان پټولو په موخه مخ پرغونډیو روان شوو سیمه نا آشنا ده کلی او وطن هم نه را معلومېږي هوا هم دومره سړه ده چې پوښتنه یې مه کوه تر لږ مزل وروسته مو دا پرېکړه وکړه چې وخت ډېر تېر شوی راځئ چې بېرته مخ پر سړک ولاړ شو دلته د کلیو نښې هم نه ښکاري هسې نه چې په یوه بله بلا واوړو په دې وخت کې به یو یا دوه ساعته تېر شوي وي بېرته مخ پر عمومي سړک را روان شوو سړک ته را و رسېدو ډمبر (عمومي سړک) هم خالي شوی د سواریو لوی موټر تللي زموږ موټر هم همغه وسله والو کسانو له ځانه سره وړی دی د سړک دا بلې غاړې ته را واوښتو دلته یوه کوچنۍ شیله وه په هغه کې یو ګړی تم شوو.

له لرې داسې نری نری ږغ د سپیو مو تر غوږو کېږي ملګرو ویل راشئ د دې ږغ پر خوا ورشو کېدای شي دلته کلي وي.

خو ما ورسره خوښه نه کړه ځکه سیمه نا اشنا وه او موږ هم باید احتیاط وکړو فیصله پر دې وشوه چې په همدې شېله کې کېنو زموږ پر ناسته به دلته ۳۰ دقیقې اوښتي وي چې د سپکو او درنو وسلو ږغ شو دې ټکانو ډېر وخت ونیو.

شپه ډېره سړه وه له ډېرې ناچارۍ مو دا غوره و بلله چې تر سهاره دې دلې پاتې شو خیر په هر صورت شپه تېره او سهار شو د ملګرو څېرو ته مې کتل د دې یو شپې یخنۍ دومره تاثیر پرې کړی وو تا به ویل چې کلونه بند یې تېر کړي.

سهار مو همدلته تیموم وواهه او لمونځونه مو وکړل سړک ته را ووتلو هېڅ موټر نه راته درېږي کېدای شي دلته به سواریو ته څوک موټر نه دروي خیر همداسې پر همدې سړک راروان یو تر لږ حد مزل وروسته له یو ځوان سره مخ شوو چې یوه عاجزه (ښځینه) هم ورسره وه هغه یې لري کېنولې او دی هم دلته موټر ته په تمه دی ځوان زموږ خواته ګامونه را واخیستل راغی زما څخه یې پوښتنه وکړه.

حاجي صاحب چېرته ځئ؟

ما ورته وویل مخ پر هرات ځو ځوان مسکی شو او وې ویل دا وخت دلته موټر چاته نه درېږي زه درسره مرسته کوم د سیمې سړی یم کېدای شي کوم موټر پیدا شي او تاسې سره مې مرسته کړې وي، له ځوانه مې و پوښتل ماښام سختې ډزې وې دلته دا څه کیسه وه هغه راته وویل چې دلته مجاهدینو (طالبانو) ته نیازیانو کمین نیولی و او ډېر مجاهدین یې شهیدان کړل.

دې وخت کې یو سراچه موټر راغی ځوان خبره ورسره وکړه او هغه هم موږ تر هراته د وړلو ته چمتو شو له ځوانه مو مننه وکړه موږ ځینې سیټ او ځینې په ډکۍ کې کښېناستلو حرکت مو مخ پر هرات وکړ.

حاجي حمزه صاحب: ملګرو ته مې مخ را واړاوه ګورئ د الله پاک نظام ته د همدې شپې غېږ یې موږ ته د پناه او بل خوا همدا شپه د چا د ژوند د وروستیو شېبو لحظې وې.

حمزه صاحب چې دا کیسه راته وکړه زما فکر په دې بند شو چې ښا! دا شپې هم عجیبې وي په خپل مغز کې څومره رازونه ساتلي او په غېږ کې یې څومره ستړي لاروي ځانونه هوسا کوي همدې شپې خپله غېږه پرانیستله او له ظالمانو یې پټ کړو بل خوا همدې شپې تر سهاره د چا شهید وجود د رڼا تر څرکه و ساته.

ای کاش شپه راسره راز او نیاز وکړي سکوت مات کړي او د هر ستړي مجاهد د ژوند شېبې راته بیان کړي، خو نه دا رازونه یوازې هغه چاته ویلی شي چې کلونه یې سترګې د خوب پسې لندې کړي وي او د سکوت په ژبه د پوهېدو لپاره یې سکوت غوره کړی وي.

زما د دې وطن له دښتو او رغو سره که کېنو نو دا طبیعت، دا مرغان او دا بوټي ټول په خپلو سینو کې ناویلي لرې کېدای شي موږ ته ځان راوپېژني د حمزه صاحب په شان د خپلو ډېرو نورو بچیانو حال هم راته ووایي آن ناړې به راته کوي خو دا موږ یو چې د زړه او ذهن دروازې مو تړلي او له دوی سره خواله نه شو کولای.

لیکنې ته د پای ټکی ږدم خو ژمنه له قلم سره دا کوم چې هڅه به وکړم تر څو ناویلې د پانو پر مخ راولم او تر خپلو لوستونکو او راتلونکي نسلونو یې ورسوم.

# د اسلام آباد درې اړخیز فارمټ ته لنډه کتنه!

**عبدالحی قانت**



د افغانستان،چین،پاکستان درې اړخیز فارمټ پنځمه غونډه په داسې حال کې اسلام آباد کې تر سره کېږي چې اوونۍ مخکې ملګرو ملتونو په دوحه او د شانګهای غړو د هند په ګووا کې د افغانستان په باب بېلا بېل بحثونه درلودل.

لومړی بحث دا چې د ملګرو ملتونو غونډه کې غربیانو ته واضح پیام ورکړل شو چې د سیمې هیوادونه نه غواړي افغانستان د دوی له زاویې ووینې. زما په فکر له همدې امله د دوحې غونډه کې د سیمې د هیوادونو موقف غرب په خپل هدف کې ناکام کړ.

دا چې د شانګهای د غونډې اصل ټولټال اجماع ده، د افغانستان په باب د بیاجوړونې، پرمختګ تر څنګ د بشري حقوقو او امنیتي مسائلو په باب بحث تر سره شو. د شانګهای د بحث غوښنه موضوع افغانستان نه بلکې د سیمې نور لوی مسائل ؤ.

زما په فکر د افغانستان،چین،پاکستان په درې اړخیزه کې څو مهم پیشرفتونه وشول؛

۱-په عمومي ډول د دې درې اړخیز بحثونه په سیمه ییز امنیت، ثبات، ټیکاو او اقتصادي نښلون څرخېدل. دا لومړی مهمه خبره ده چې د سیمې ټول هېوادونه پرې یوه خوله دي، اړتیا دا وه چې د چین په موجودیت کې پاکستان هم په دې برخه کې خپل موقف وړاندې کړي تر څو په سیمه ییز ساختار کې یې ځای مالوم شي.

د دې موقف وړاندې کول خپل مسؤلیتونه لري چې ښایي راتلونکې کې پرې د دې درې هیوادونو تخنیکي ټیمونه کار وکړي (اعلامیه کې ذکر شوي).

۲-د اقتصاد، تجارت، ټرانزټ او سیمه ییز اتصال په برخه کې ژمنې چې په دې وخت کې د یادو درې وارو هیوادونو اشد ضرورت او اړتیا ده. زموږ سیمه ییز نښلون، د چین سیمه ییزې پروژې، د یو لارې یو کمر بند پروژې (مرکزي آسیا او سي پېک) چین او پاکستان سره له همداسې اړیکو پرته نا ممکنه ده. د افغانستان د برق، انرژۍ او سوېل-مرکزي آسیا نښلون هم له دې همکارۍ پرته ناممکن دی.

۳- امنیتي برخه کې له ډېره وخته د سیمې د نورو هیوادونو او افغانستان تشویش دا ؤ چې امریکا سره باید د سیمې په کچه هېڅ هیواد په امنیتي برخه کې د افغانستان په باب همکاري ونه کړي. دا همکاري د مرکزي آسیا ټولو هیوادونو رد کړه، چین او ایران خو امکان نه لري خو هغه څه چې نامالوم وو د دې موضوع په باب د پاکستان موقف و. د اسلام آباد درې اړخیزې دا خبره سپینه کړه. پاکستان ښکاره ژمنه وکړه چې دوی به هېڅکله خپله فضاء د افغانستان پر ضد نه کاروي. همدا راز افغانستان هم د نورو هیوادونو په باب د خپل قلمرو کارول رد کړي.

۴ - له دې درې اړخیزې اعلامیې دا ښکاري چې د سیمې هغه ټول مهم مسائل په کې ذکر شوي چې له ډېر وخت راهیسې یې د دې هیوادونو تر منځ بې اعتمادي او بې باوري رامنځ ته کړې وه. دا غونډه ښایي د باور جوړونې په باب مهمه او کامیابه غونډه وه.

۵ - د مهاجرینو، مخدره توکو د قاچاقو او نورو جرمونو د مخنیوي په اړه خبرې هم د سیمې د کلي امنیت او پیشرفت په اړه ښه پرمختګ ؤ.

# د حسن عباس کتاب او د افغان لیکوالانو مسؤلیت!

**محمد آصف آزاد**

د حسن عباس په نامه یو پاکستاني الاصله امریکایي لیکوال کوم کتاب لیکلی او په دې کتاب کې یې پر اسلامي امارت او ځینو مشرانو باندې تورونه لګولي او هڅه یې کړې، چې اسلامي امارت او د اسلامي امارت مشران د کوم لوري تر تاثیر لاندې وښيي. په داسې حال کې، چې په اوسنۍ نړۍ کې اسلامي امارت او د اسلامي امارت د مشرانو استقلال او خپلواک دریځونه بې ساري دي او د خپلواکۍ په لاره کې یې د ډېرو سترو قوتونو پر وړاندې د لسیزو تاریخسازه مبارزه نړۍ ته هېښوونکې او خیرانوونکې وه او ده. اسلامي امارت شاوخوا دوه لسیزې له نیمې د زیاتې نړۍ پر وړاندې له هر ډول فشارونو او زور ازموینو سره سره په خپل دریځ محکم او ثابت پاتې شوی او لا مخکې بریالی روان دی. الحمدلله. د عبدالرحمن بابا رحمه الله د دې شعر مصداق ګرځېدلی، چې:

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم
که خزان راباندې راشي، که بهار

په زور و زر مغروره نړۍ له خپلو دریځونو اوښتلو ته اړه شوه، خو اسلامي امارت خپل دریځ پرېنښود. نړۍ ولیدل چې څرنګه امریکا د خپلواک اسلامي امارت شل کاله وړاندېنې مستقل دریځ ته په ملا خمېږي، امریکا له خپلو سرو کرښو تېرېږي؛ خو اسلامي امارت وړباندې خپل دریځ مني. دا مبالغه نه ده او نه احساساتي ادعا ده. شل کاله وړاندې امریکا ویل، چې له اسلامي امارت سره خبرې د دوی د قوانینو خلاف دي؛ خو کله یې چې غرور اوبه شو، له سره تللی هوش یې سر ته راغی؛ نو بلاخره د مذاکراتو مېز ته کېناستل.

د ګوانتانامو افغان بندي اسدالله هارون د امریکا د محاکمو د پرېکړو له مخې عمري قید و او آن د دغه هېواد ولسمشر یې د خلاصون صلاحیت نه درلود؛ خو نړۍ ولیدل چې څرنګه اسلامي امارت تبادلې ته اړویستل او ښاغلی هارون افغانستان ته هسکه غاړه راغی.

د اسلامي امارت خپلواکي نوره لرې او نږدې، خپل او پردي، دوست او دښمن ته ثابته شوې؛ خو کوم سپین سترګی او کمزوری شخص به یې د اعتراف جرئت نشي کولی. هغه د کاروان صاحب خبره چې:

په زړه ورځي، خو په خوله دا اعتراف کله کوي!
چې د کاروان هم په غزل کې قیامت کړی دی!

د اسلامي امارت مخالفینو ته تر اوسه د اسلامي امارت د پاک صف د داغداره کولو لپاره له هماغه څو ډېر تکراري شو، پوچ او بېځایه تورونو پرته بل څه په لاس ورنغلل. عباس له امریکا غږ سره په مرکه کې هم اکثراً پخواني تورونه بیا تکرار کړي.

دوې ډلې دي، فلانی افراطي دی او فلانی منځلاری دی، فلانی د فلاني مخالف دی او فلانی له فلاني سره جوړ دی او...

هغه د صابر صاحب بیت دی، وایي:

نوی الزام راباندې ولګوه!
زړې خبرې خو زړې شوې کنه!

شاوخوا ۲۲ کاله وړاندې د امریکا د یرغل په اول کال داود جنبش، اروابښاد امیرالمؤمنین رحمه الله ته وایي، چې داسې ویل کېږي طالبان په دوو ډلو (منځلارو او افراطي) وېشل شوي. لوی ملا صاحب رحمه الله ورته وایي، چې طالبان ټوله منځلاري دي؛ منځلاري موږ یو.

خو طالب دښمن ۲۲ کاله وروسته بیا هماغه خبره تکراروي؛ خو ثابتولی یې نه شي!

معنی دا چې، د اسلامي امارت او د اسلامي امارت خپلواکي لکه د لمر ښکاره ده او نوموړي لیکوال هسې په اصطلاح په دوه ګوتو د لمر پټولو ناکامه هڅه کړې! حسن عباس به د خپل ماموریت اجوره اخیستي وي، رسنۍ به یې مشهور کړي او کتاب به یې وپلورل شي؛ خو ان شاءالله مسلمانان پوهېږي، واقعیتونه درک کوي او وبه نه غولېږي؛ ځکه د الله تعالی دا ارشاد مبارک به په پام کې نیسي:

[سورة الحجرات: ۶] ژباړه : اې مؤمنانو! که کوم فاسق تاسې ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسې (د خبر په اړه) پلټنه او تحقیق وکړئ، هسې نه چې کومې ډلې ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوئ او بیا پخپلو کړو پښېمانه شئ.

خو زما خبره دا نه ده، چې حسن عباس ولې تورونه لګولي او ولې یې دا ګستاخي کړې؛ دوی به داسې کوي، د حقپالو پر وړاندې د باطلپالو دا هڅې نوې نه دي؛ د حق او باطل ترمنځ د جګړې له هغه اولې ورځې دا لړۍ روانه ده. بلکې د پام وړ خبره دا ده، چې پر ځای د دې چې موږ خپله لیکل وکړو؛ همېشه ((زموږ)) په اړه ((نورو)) لیکل کړي او هغه هم ((زموږ)) ((دښمنانو)) او موږ خپل مسؤلیت نه دی ترسره کړی.

د افغان او انګرېز جګړو اړوند زموږ په نسبت اروپایي لیکوالانو ډېر لیکل کړي او زموږ لیکوال هم که لیکل کړي، د انګرېز لیکوالانو له لیکنو به یې تر ډېره استفاده کړې وي او ماخذونه به یې د دوی وي. د شوروي یرغل پر وړاندې د افغان جهاد او بیا راوروسته حالاتو اړوند له افغانانو زیات اروپایي او امریکایي لیکوالانو او خبریالانو لیکل کړي او طبعاً دې لیکلو کې تر ډېره له استخباراتي موخو او عقدیي چلندونو کار اخیستل شوی او د ګمراه کولو او حقایقو د پټولو هڅه شوې. متاسفانه په دې برخه کې افغان لیکوالانو او څېړونکو هغه څه نه دي کړي، چې په کار و او مسؤلیت یې جوړېده. د افغان مسلمان ملت وروستی شل کلن جهاد او مبارزې اړوند لیکل تراوسه نږدې په هېڅ شمار دي. دا د امریکا ترمنځ د خورا مهمو او سترو مذاکراتو اوږده بهیر اړوند لیکل په کار دي. څه موده وړاندې مې واورېدل، چې دې مذاکراتو کې له امریکایي لوري سره افغان ژباړن هم د یادو مذاکراتو اړوند خپل کتاب لیکلی. دوی خو به یې لیکي، او حتماً به په کې خپلې موخې او غرض و مرض پالي، خو زموږوال به څنګه شي؟!

دې مذاکراتو کې پر افغان استازو د افغان ملت حق جوړېږي چې نورو ته یې پرې نږدې او دې برخه کې خپل مسؤلیت ترسره کړي، او حقایق او د واقعیتونو د ثبت کولو او نورو ته د رسولو لپاره خپل مسؤلیت ترسره کړي.

نه یوازې دا مذاکرات؛ بلکې د اوږدې مبارزې د هر اړخ او هرې خندې، د هر غازي او هر شهید، د هر درد او هر کړاو او... لیکل، ثبت کول او د تاریخ پاڼو ته سپارل په کار دي او د هر ژمن، متعهد او په وس پوره لیکوال مسؤلیت جوړېږي او بویه چې انجام یې کړي. کنه نو، راتلونکو نسلونو سره به یې لویه ناځواني کړې وي!



# ځاځي اریوب ته د سیلانیانو ورتګ ډېر شوی

په ټول هېواد کې سوله او امنیت هغه څه دي، چې ځینو ولایتونو ته سیلانیان ورمات شوي دي. له دغه جملې یوه د پکتیا اړوند د ځاځیو اریوب ولسوالۍ غرنۍ سیمه ده چې له اختر وروسته هم ډلې ډلې سیلانیان ورمات دي او هلته خپلې مېلې ترسره کوي.

د دغه سیمې اوسېدونکي له حکومته غوښتنه کوي، چې دغو سیمو ته دې سړکونه پاخه او ځانګړې ماپلرنه دې ورته وشي؛ ترڅو سیلانیانو ته په سفر کې آسانتیاوې رامنځته شي. دوی زیاتوي چې د اختر په شپو او ورځو کې ګڼه ګونه زیاته وه؛ خو اوس هم هره ورځ له کندهار، خوست، کابل او د هېواد له بېلابېلو سیمو ګڼ خلک د اریوب چینو او زرغونو منظرو لیدو ته ورځي، ځکه له یوې خوا دلته د خلکو روزګار ښه شوی او له بل لوري امنیت راغلی.

ولي او مرجان هغه سیلانیان دي، چې له دغه سیمې یې لیدنه کړې وایي، حکومت دې دغسې سیمو ته ځانګړې پاملرنه وکړي او د سیلانیانو را ټولې شوې پیسې دې بېرته په دغه شان سیمو مصرف شي ترڅو د سیلانیانو ورتګ نور هم زیات شي.

ولي وایي: ((ځاځی اریوب ولسوالۍ په رښتیا چې یوه ښکلې او شنه سیمه ده چې ډېر طبیعي ځنګلونه، سړې چینې او تازه هوا لري. د افغانستان د ډېرو ولایتونو او همداشان د کوزي پښتونخوا خلک هم د تفریح لپاره دلته راځي؛ خو بدبحتانه هغه پیسې چې د سیلانیانو څخه اخیستل کېږي دغې سیمې ته هېڅ ډول خدمت پرې نه کېږي او یواځې د څو کسانو شخصي جیب ته ځي. هغه پیسې چې د سیلانیانو څخه اخیستل کېږي. که چېرې بېرته د همدې سیمې په ښایست او اسانتیاوو مصرف شي د سیلانیانو ورتګ به څو چنده زیات شي.))

مرجان زیاتوي: (( ځاځي اریوب د هېواد په سطحه یو ښکلې او ښېرازه سیمه ده. ښایسته منظرې، شنې ساحې او ښایسته آب هوا لري. متاسفانه چې سړک یې خام دی، چې سیلانیان یې له ډېرو ستونزو سره مخ کړي. له حکومته مو هیله داده، چې پاخه او اساسي سړک ورته جوړ شي.))

یو سیلاني فرهېز راته وویل: ((د امنیت له پلوه یاده سیمه غني ده او هر څوک کولای شي، چې په ډاډه زړه ورته لاړ شي او هغه سیلانیان، چې دغه سیمې ته ورځي باید د نظافت او پاکوالي پوره خیال وساتي. امنیتي ځواکونه هم نه شي کولای چې د اسلحې سره د ننه شي، چې دا ښه اقدام دی؛ خو له سیلانیانو هیله لرم چې پاکوالي ته پوره پاملرنه وکړي.))

ځاځي اریوب د پاکستان سره پر کرښه پرته ولسوالۍ ده، چې ورتلوونکي سیلانیان یې د پاکستان له لوري پر اغزن تار کلکه نیوکه کوي او زیاتوي د دغه ښایسته سیمې ښکلا دغه بدرنګه تار بې رنګه کړې.

د سیمې اوسېدونکي او سیلانیان د افغانستان د اسلامي امارت له حکومت غوښتنه کوي، چې یاده سیمه دې د ملي پارک په نوم ونوموي او د ښکلا لپاره دې ورته ځانګړې پاملرنه وشي.

**پامیر وطنوال**

# شعر و ادب

## غزل

**حضرت حافظ (رح)**

هر آن که جانبِ اهلِ خدا نگه دارد
خُداش در همه حال از بلا نگه دارد
حدیثِ دوست نگویم مگر به حضرتِ دوست
که آشنا، سخنِ آشنا نگه دارد
دلا مَعاش چنان کن که گر بلغزد پای
فرشته‌ات به دو دستِ دعا نگه دارد
گَرَت هواست که معشوق نگْسَلد پیمان
نگاه دار سرِ رشته تا نگه دارد
صبا بر آن سرِ زلف ار دلِ مرا بینی
ز رویِ لطف بگویش که جا نگه دارد
چو گفتمش که دلم را نگاه دار چه گفت؟
ز دستِ بنده چه خیزد؟ خدا نگه دارد
سر و زر و دل و جانم فدایِ آن یاری
که حقِّ صحبتِ مهر و وفا نگه دارد
غبارِ راهگذارت کجاست؟ تا حافظ
به یادگارِ نسیمِ صبا نگه دارد

## امت دې پوروړی دی اقصی بلا دې واخلم!

**مولوي محمد هاشم ذاکر**

امت دې پوروړی دی اقصی بلا دې واخلم
دا ولې دې څوک نه اوري ژړا بلا دې واخلم
وحشت دې د نړۍ د بشر خورو کافرانو
ستا غېږ وي هره ورځ یوه کربلا بلا دې واخلم
غږونه دې د وامعتصما له منارو نه
تر موږ پورې راځي سهار بېګا بلا دې واخلم
ښه ډېر دي مسلمان خو بس د مرګ په خوب ویده دي
ترې ډکه ده څلور کونجه دنیا بلا دې واخلم
موږ وبښه چې نه لرو شرنګا د سپینو تورو
آسونه هم ویده دي د غزا بلا دې واخلم
یوازې شوې یو بل صلاح الدین لکه چې نشته
چې مرستې ته دې راشي یو ځل بیا بلا دې واخلم
که خدای کړه د ذاکر وطن به ننګ درباندې وکړي
دا کار دی د طالب او د ملا بلا دې واخلم

## غزل

**عبدالرحمن بابا**

ما را جمع کړل د کلي ماشومان ټول !
بیا مې بوتلل و کوڅې ته د جانان ټول
د جرګې خبره یار قبوله نکړه !
په ژړا مې ورته څیرې کړو ګریوان ټول
بی نوا چې یی د دره را رخصت شوم !
په خندا مې شول د کلي رقیبان ټول
شوم بې دمه، دم په ما کې پاتې نشو !
اندامونه راله ونیول خفګان ټول
په غزل مې ګوتې پورې کړې له غمه !
په شعرونو کې مې ولیکی بیان ټول
زه رحمان به یم ژوندی او یا به مړ یم !
دا دیوان به زما ګوري عاشقان ټول

# فساد او مفسد

**اتمه برخه / مولوي نورالحق مظهري**

ټولنیز فساد: د هغو کړنو او کارونو څخه تعبیر دی چې په کولو یې ټولنه تخریبېږي او عمومي فساد ورڅخه پیدا کېږي.

په کومه ټولنه کې چې د اصولو او ضوابطو څخه په ټولیز ډول سرغړونې کېږي هلته ټولنیز فساد پیدا کېږي د بېلګې په ډول: په اسلامي ټولنه کې د کورنۍ ژوند، معاملاتو، حکومتولۍ، سیاست، معاشرت او داسې نورو کړنو لپاره خپل اصول ایښودل شوي، چې انسانان باید له هماغه اصولو سره سم په ټولنه کې خپل ژوند پر مخ بوزي نو چې کله د هماغه اصولو سرغړونه کېږي دستي فساد ورڅخه پیدا کېږي.

لویه ټولنه د کوچنیو ټولنو او کورنیو څخه تشکیل شوې وي ځکه نو په لویو ټولنو کې فساد د کوچنیو ټولنو او کورنیو څخه را پیلېږي او د کورنۍ د غړو ترمنځ فساد د هغوی کورنۍ ته او بیا له هغه ځایه ټولنې ته انتقالېږي.

کله چې د افرادو د انحراف په سبب په کورنیو کې فساد پیدا شي په تدریجي ډول په ټولنه کې هم فساد ورڅخه پیدا کېږي او ورو ورو یې لمنه دومره پراخه کېږي چې هر څه ورڅخه متأثره کېږي.

د انسانانو د ژوند په برخو کې د تفاوت په سبب ټولنیز فساد هم ځان ته ډېرې برخې لري د بېلګې په ډول: امنیت د انسانانو د ژوند لپاره ډېر مهم دی نو کله چې په غلا، اختطاف، بغاوت او خودسریو سره امنیت اخلالېږي عادتاً فساد ورڅخه پیدا کېږي چې دې ته موږ د امنیت په برخه کې ټولنیز فساد ویلای شو، معاملات د انسانانو په ژوند کې لویه اړتیا ده کله چې د ځینو منحرفو انسانان لخوا په معاملاتو کې سود او ناروا سوداګانې داخلېږي حتماً فساد ورڅخه پیدا کېږي چې دې ته موږ په معاملاتو کې ټولنیز فساد ویلای شو همداسې د ژوند نورې برخې چې د عادي او نورمال حالته اوړي فساد ورته ویلای شو.

د ټولنیز فساد په سبب په کورنیو او ټولنو کې ژوند سره ګډوډېږي، امنیت خرابېږي، ناحقه ځورونې او وژنې ډېرېږي، نظامونه له ننګونو سره مخامخ کېږي، په ټولنو کې د اصلاحاتو او سمون مخه نیول کېږي او په انسانانو کې وحشت او بې بندوبارۍ ډېرېږي ځکه نو د ټولنیز فساد پر وړاندې مبارزه هم باید ټولنیزه وي او هر فرد باید د خپل حاکم نظام تر څنګ د داسې فساد په وړاندې ودرېږي.

